مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲/۱۲/۰۶

# یو سړی ونیول شو

## غږ مې اورئ او که نه؟!

یو سړی ونیول شو.
ولې؟
ځکه:
– ویل:
اې ولسه! ژوند ستاسو حق دی، دغه ریاست، چې پر تاسو واک چلوي، تاسو وژني، ورکوي مو، ربړوي مو، د خپل قاتل لاس له خپله سره لنډ کړئ! تاسو د ژوند حق لرئ!
– ویل:
موږ مه وژنئ! یا لږ تر لږه دومره راته ووایئ، چې ولې مو وژنئ؟
– ویل:
زموږ اوبه، زموږ سرچینې، زموږ زمکه او کانونه زموږ دي، دا مه لوټئ، موږ پخپله وږي و وزګار یو، دا هرڅه زموږ دي.
– ویل :
د دې وطن نجونې او زلمیان باید ښوونځي ته ولاړ شي، پوهنتون ته ولاړ شي، په خپله ژبه عصري درس ووايي، دوی په استخباراتي مدرسو کې مه ځانمرګي کوئ!
– ویل:
موږ له نیکو نیکو مسلمانان یو، دلته د اسلام و کفر جنګ مه کوئ، د چین و امریکا سیالي زما په وینو مه پالئ، د روس او ناټو دګرې دلته مه وهئ!
– ویل: زما هویت افغان دی، ژبه مې پښتو ده، وینه مې له خپلو ورونو سره شریکه ده، زما د کورنی په سینه دې، چې کومه چاړه راښکلې ده، زه یې نه منم، زه خپل وجود سلامت غواړم.
ویل:
زما لوی کور ته ټوپک او باروت مه لېږئ، زه یې وینم، چې هلته همدا ستاسو په استخباراتي دسیسو ښځې و ماشومان وژل کېږي؟ دا ولې؟
ویل:
زما سیمه، زما کلی، زما ښار، زما دیره و جومات زما دي، دلته باید موږ ژوند وکړو. دلته د نړۍ ترهګر او وژونکي مه راغونډوئ! دلته عرب و چیچین و اوزبیک و تاجیک و پنجابي و سل ډوله نور ټوپکوال څه غواړي؟
دوی دلته چا راوستلي دي؟
– ویل:
اې ټولو افغانانو!
راویښ شئ! روښانه شئ! او خپل برخلیک په خپله اراده و ټاکئ!
– ویل:
کډوالو ته لاس مه وراچوئ، زما ناموس مه بېعزته کوئ، زما ورونه و خویندې مه لوټئ !
هو!
دوی همدا سړی په همدې ګناه نیولی، ورک دی، ربړوي یې، خدایزده څه به ورپېښ شي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو ولس يې لا چوپ دی.
ولس يې تر کنګل سوړ او تر ډېرې ناخوځند کرار ناست دی او ورته ګورئ.
اې ولسه!
ټول عمر دې ګيله دا ده، چې ښه مشران نه لرې.
څه ډول مشر غواړې؟
دی خو هم مسلمان دی، هم يې لاسونه له وينو پاک دي، هم يې لمن له فساده سپېڅلې ده.
دی خو همدا ستا په ژبه خبرې کوي، همدا ستا جامې اغوندي، په پوله و پټي و جومات و ديره کې درسره ناست وي،
مړي و ژوندي ته دې ځان رسوي، تر دې نور ولسي مشر به له کومه کړې؟
خدای به تر دې بل وړ مشر څنګه درته وتراشي؟
ته به نو بالاخره په چا راټول شې؟
په چا به آمين ووايې؟
اوس يې چې ونيوه،
له اويا ميليونو څخه يې څو ميليونه په ننګ راپاڅيږئ؟
ولسي قيامت څه وخت جوړوئ؟
ملي توپان څه وخت راپاروئ؟
د خپل ملي خښم و غوسې سمندر په کومه ورځ په توپاني څپو راهسکوئ؟
چېرته ياست!
غږ مې اورئ او که نه؟!

**ويښتيا، روښانتيا او بدلون**




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ